## د راپور لنډيز

د څارنې او ارزونې کميټې (MEC) د ۱۳۹۶ کال د لړم په څلورمه نېټه "په پوهنې وزارت کې د اداري فساد په وړاندې د زيانمننو د ارزونې" راپور خپور کړ. د يادې ارزونې د موندنو پر بنسټ، د څارنې او ارزونې کميټې د پوهنې سکتور هغه بېلابېلې برخې چې د اداري فساد په وړاندې زيانمنونکې دي، په ګوته او د پوهنې سکتور د بېلابېلو برخو د سمون او په ياد سکتور او پوهنې وزارت کې د اړينو اصلاحاتو د راوړلو په موخه يې ۶۶ سپارښتنې صادرې کړې. د سپارښتنو ياد شمير، وروسته بيا ۱۱۳ ځانګړو سپارښتنو ته ورسيد. اوسنی تعقيبي راپور، د يادو سپارښتنو د پلي کېدو د لړۍ په تړاو لومړنی درې مياشتنی څارنيز راپور دی.

د څارنې او ارزونې کميټه (MEC) د خپلو سپارښتنو د پلي کېدو لړۍ، وړانديز شوي اصلاحات، د پوهنې په سکتور کې د اداري فساد په وړاندې روانې هڅې په فعاله توګه څارې، او د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، خپل درې مياشتنی څارنيز راپور چمتو کوي. د څارنې په لومړۍ درې مياشتنۍ دوره کې، د څارنې او ارزونې کميټې (MEC) ننګرهار، لغمان او کابل ولايت ته ولايتي سفرونه درلودل. د اړوندو همغږې کونکو(فوکل پاينټ) څخه د ترلاسه شويو معلوماتو او ځوابونو د کره والي د تاييد په موخه، ياده کميټه د اسنادو، نيغ په نيغه مشاهدو او کتنو او مرکو په ګډون، د شواهدو او مدارکو په لټه کې دی.

د کال په لومړيو دريو مياشتو کې، د څارنې او ارزونې کميټه د پوهنې وزارت په اړه معلوماتو ته د لاس رسي په موخه د ستونزو او مقاومتونو په ګډون د ياد وزارت له خوا د پر وخت ځوابونو او معلوماتو د ترلاسه کولو په برخه کې له ځينو ننګونو سره مخ شوه. د څارنې او ارزونې کميټې د ياد وزارت د همغږي کونکو(فوکل پاينت) له لوري هيڅ راپور د لومړني ضرب الاجل سره سم ترلاسه نه کړ. د پوهنې وزارت رهبرۍ هم له يادو همغږي کونکو څخه د بريښنايي ليکونو له لارې وغوښتل چې د څارنې او ارزونې کميټې غوښتنې ته دې پر وخت ځواب ورکړي. ځينو همغږي کونکو نه د څارنې او ارزونې کميټې بريښناليک او نه هم د پوهنې وزارت د رهبرۍ پيغام ته ځواب ورکړ. په داسې حال کې چې د پوهنې وزارت مشرتابه د څارنې د پروسې پر مهال د څارنې او ارزونې کميټې (MEC) سره د هيڅ ډول همکارۍ او ملاتړ څخه ډډه نه ده کړې، د پر وخت ځواب ورکونې په برخه کې د همغږي کونکو کمزوری چلند، نا هيلې کونکې و او د لومړني درې مياشتني څارنيز راپور د چمتو کولو بهير يې له غير ضروري ځنډ سره مخ کړ.

په پوهنې وزارت کې د اداري فساد په وړاندې د زيانمننو د ارزونې د راپور د خپريدو وروسته، د ملکي خدمتونو د ټولو کارکونکو ګمارنه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون ته سپارل شوې ده. نو ځکه د ښوونکو د ګمارنې په اړه د څارنې او ارزونې کميټې سپارښتنې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون پورې اړه نيسي. د اداري اصلاحاتو ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون مشرتابه د څارنې او ارزونې کميټې له سپارښتنو هرکلی وکړ او د هغو سپارښتنو له پلي کولو سره يې چې ياد کميسيون پورې تړاو لري موافقت وکړ او د څارنې او ارزونې کميټې د ۱۷ ځانګړو سپارښتنو د پلي کيدو لړۍ په څارنه کې يې هم همکاری وکړه. همدا شان، د څارنې او ارزونې کميټې ۱۴ سپارښتنې، پراختيايي همکارانو پورې تړاو لري نو ځکه د څارنې او ارزونې کميټې څارنيز ټيم د يادو سپارښتنو د پلي کيدو لړۍ د تعقيب او څارنې په موخه د يادو لورو له استازو سره په نږدې اړيکه کې دی.

د څارنې په لومړې ربعې کې د ۱۱۳ سپارښتنو څخه ۱۶ سپارښتنې په بشپړه توګه پلي شوي دي چې ډيری يې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون له لوري د ښوونکو د ګمارنې بهير پورې اړه لري او د يادو سپارښتنو يوه وړه برخه په مستقيمه توګه د پوهنې وزارت کړنو پورې تړاو نيسي. په ياد پرمختګ کې، د شفافيت او روڼوالي په اړه اقدامات لکه د ويب پاڼې له لارې د تشو بستونو اعلانول، په آنلاين توګه د دندې د غوښتنليکونو ترلاسه کول، د ګمارنې پروسې ډيجيټلي کول او د متقاضيانو او شارټ ليست شويو کانديدانو د نوم لړ اعلانول، شامل دي.

يوه بله برخه چې پکې د پام وړ پرمختګ شوی دی، د پوهنې وزارت د تشکيل بيا رغونه او د ياد وزارت د تشکيل عمومي پراخوالي کمول دي. د پوهنې وزارت په دې برخه کې د اصلاحاتو تفصيلي پلان او د خپل تشکيل د بيا رغونې لومړنۍ طرحه(کانسيپټ نوټ) تدوين او بشپړه کړې ده.د يادو بدلونونو پر بنسټ، په کليو او بانډو کې د ښوونځيو د جوړنې مسووليت د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت ته او ښارونو کې د ښوونځيو جوړولو مسووليت د ښار جوړونې وزارت ته سپارل شوی دی. سر بېره پر دې، د ولسمشر د يوه فرمان پر بنسټ د تخنيکي او مسلکي تعليماتو معينيت د پوهنې وزارت له تشکيل څخه حذف او د مسلکي او تخنيکي زدکړو او تعليماتو د يو خپلواک بورد په توګه فعاليت کوي.

د هيواد په پوهنې نظام کې د ښځو د ونډې د زياتوالي په موخه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون " په ملکي خدمتونو کې د ښځو د ونډې د زياتوالي پاليسي" چې نه يواځې د پوهنې سکتور بلکه نور سکتورونه هم تر پوښښ لاندې نيسي، تدوين کړې. د يادې پاليسۍ اصلي موخه داده

چې په ۱۳۹۷ کال کې د افغانستان د ملکي خدمتونو په کاري ځواک کې د ښځو د ګمارنې کچه تر دوه سلنه زیاته کړې. د پوهنې وزارت، د یادې سپارښتنې د پلي کولو په تړاو هم مثبت ګامونه اوچت کړي دي او د ښوونکو ۸۰۰۰ بستونو نیمایي برخه یې ښځینه کاندیدانو ته ځانګړې کړې ده.

د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC)، د پوهنې وزارت مشرتابه ته د یوې داسې عامه اعلامیې د صادرولو سپارښتنه کړې چې په ټول سکتور کې پر بنسټیزو اصلاحاتو او په یاد وزارت کې د اداري فساد په وړاندې پر مبارزې ټینګار وکړي. یاده سپارښتنه اوس په بشپړه توګه پلي شوې ده. همدارنګه د ملي یووالي حکومت ۱۳۹۷ ام او ۱۳۹۸ ام کلونه، د پوهنې څخه د ملاتړ کلونو په توګه اعلان کړي دي.

د څارنې په دې دوره کې، د پوهنې وزارت د پالیسیو، اسنادو او مقررو د بیا کتنې او اصلاح په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. د بیلګې په توګه، د حقوقو د برابرۍ، روڼوالي، د تحصیل او زدکړو حق، حساب ورکونې، اعتماد د باور د تامین په موخه، د پوهنې وزارت د کارکونکو د چال چلند مقرره(چلند دود) اوس مهال نافذه ده. د ټولنې محوره زدکړو (Community Based Education) پالیسي او د معلوماتو د راټولولو لارښود اوس اصلاح شوې او د پوهنې د کیفیت کمیټې په کار پیل کړی.

له ۱۱۳ سپارښتنو څخه ۱۲ بیلابیلې سپارښتنې تر ۵۰ سلنې پورې پلې شوې دي. د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC) د سپارښتنو پر بنسټ، د پوهنې وزارت اوس د درسي نصاب کاري چوکاټ اصلاح کړی دی چې له مخې یې د هر ټولګي لپاره د درسي کتابونو شمیر په لاندې ډول کمیږي:

د ۱-۳ ټولګیو لپاره کتابونه له ۶ څخه ۳ ته.

د ۴-۶ ټولګیو لپاره کتابونه له ۱۴ څخه ۶ ته.

د ۷-۹ ټولګیو لپاره کتابونه له ۱۷ څخه ۷ ته.

او د ۱۰-۱۲ ټولګیو لپاره کتابونه له ۱۵ څخه ۱۲ ته.

له ۱۱۳ سپارښتنو څخه ۵ سپارښتنې تر ۲۵ سلنې پورې پلې شوې دي. په یادو سپارښتنو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له خوا شکایتونو ته د رسیدنې سیستم جوړول، د پوهنې د معلوماتو د مدیریت سیستم د معلوماتو د کیفیت د لوړولو په موخه د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول او د پوهنې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان تدوین، شامل دي.

په دې ربع کې، په ۳۸ سپارښتنو باندې کار/ مطالعه پیل شوې ده. ددې کټګورۍ یوه ښه بیلګه د دولسمو ټولګیو د شهادتنامو د صدور لړۍ دیجیټلي کول دي. د دولسمو ټولګیو د شهادتنامو د مندرجاتو او صدور لړۍ د دیجیټلي کولو سافټویر(Software) تدوین شوی او اوس مهال په کابل ښار کې د کابل د پوهنې د ریاست له خوا په آزمایښتي بڼه پلي کیږي.

په دې څارنیزې ربعې کې، د ۳۱ سپارښتنو د پلي کیدو لړۍ ځنډول شوې او له ۱۱۳ سپارښتنو څخه د ۱۱ سپارښتنو په اړه هیڅ ډول اقدام نه دی شوی. یادې سپارښتنې بیلابیل موضوعات په ځان کې رانغاړي. د سپارښتنو د پلي کیدو وضعیت په لاندې ډول ښودل کیږي:

| د سپارښتنې وضعیت | شمیر |
|---|---|
| سل په سلو کې | ۱۶ |
| څه ناڅه تر ۵۰ سلنې پورې | ۱۲ |
| څه ناڅه تر ۲۵ سلنې پورې | ۵ |
| پیل شوې | ۳۸ |
| ځنډول شوې | ۳۱ |
| هیڅ اقدام پرې نه دی شوی | ۱۱ |
| ټول ټال | ۱۱۳ |




په ټوله کې، د پوهنې وزارت او د اداري اصلاحاتو کمیسیون د خپلو اړوندو

سپارښتو د پلي کولو په برخه کې پرمختګ کړی دی. د څارنې او ارزونې کمیټه(MEC) له پوهنې وزارت څخه ټمه لري چې د یادې کمیټې د سپارښتنو د پلي کیدو لړۍ او همدارنګه د هراړخیزو اصلاحاتو پلان د پلي کیدو بهیر دې په راتلونکو ربعو کې چټک کړي. د څارنې او ارزونې کمیټه(MEC) خپل دوهم درې میاشتنۍ څارنیز راپور د ۲۰۱۸ کال د آګست په میاشت کې خپروي.